پوهنمل ګل رحمن رحماني

# په «چونغر» کې د طبیعت انځور

# Picture of nature in ((Chonghar))

**Assistant Prof. Gul Rahman Rahmani**

## Abstract

Suleiman Layeq is a talented Pashto poet in the field of natural images. This great poet has been able to learn the original language of nature based on his deep objective and mental observations and to give this language a lasting color and essence with the help of the perfection of his poets. He also describes his observation business from the point of view of an able poet, from Mount CHONGHAR) Beautiful and natural hills and one of the poetic collections of this poet (a beautiful landscape in the Pakhlamari city of Baghlan province. In this article, from the effect songs of CHONGHAR and SANDARI PA SAWOO WTOONO KI) Songs on burnt roads (, different songs have been selected, which has been focused more on the sixth song for analysis. The sixth song is one of the mediocre songs of this book, and in terms of time, it is the time when the poet has taken refuge in the natural embrace of CHONGHAR for the first time. The visual language of CHONGHAR songs is simple and romantic, which has taken on a sweet color in the process of illustration of popular knowledge and culture. CHONGHAR has a total of 32 natural songs, the first of which are very natural and have reconciled with nature. But the middle and last songs also include the poet's ideas and complaints.

## لنډیز

سلیمان لایق په پښتو شاعرۍ کې د خپل هېواد د طبیعت انځورونې یو ماهر شاعر بللی شو، نوموړی توانېدلی چې د خپلو ژورو عیني او ذهني مشـاهدو پر بنسـټ د طبیعت ژبه زده کړي او بیا په خپل شـاعرانه کمال او جوهر کې تلپاتې رنګ ورکړي. که څه هم د نوموړي په شاعرۍ کې د طبیعت انځورونه خورا زیات دي، خو تر ټولو مهم یې د چونغر طبیعي سیمې انځور دی. لایق صاحب په چونغر کې چې د بغلان ولایت د پلخمري اړونده ښـکلې سـیمه ده خپلې تجربې او لیدنې د یوه شـاعر له زاویې نه انځور کړې دي، په دې مقاله کې د نوموړي د چونغر ترانې اثر او سندرې په سوو واټونو کې شعري ټولګې څخه چونغر ته اوسنۍ او پخوانۍ بېلابېلې ترانې غوره شوې، خو ډېر تمرکز په شپږمه ترانه شوی دی چې د مهال له اړخه منځنۍ ترانه ده او شاعر لومړی ځل د چونغر ښکلې او ښېرازې لمنې ته پناه ور وړې ده. د چونغر د انځورونو ژبه ساده او رومانتیکه ده چې په انځور جوړونه کې یې د ولسي پوهې او فرهنګ خواږه ور زیات کړي دي. د

چونغر د ۳۲ ترانو له منځه لومړۍ برخه یې خورا طبیعي او له طبیعت ســـره له پخلاینې ډکې دي، خو په منځنیو او وروســـتیو کې بیا د شاعر عقیده او شکایتونه هم شامل شوي دي.

## سریزه

جغرافیه د انســاني شـخصـیت د ځانګړنو په ټاکنه کې خورا ژور او ټاکونکی اغېز لري او ځانګړنې یې د هغه د ژوند په بېلابېلو پړاوونو کې وخت ناوخت په بېلابېلو بڼو ځان را څرګندوي. کوم کســان چې ژوند یې په مرطوبو، ســمســورو او شــنو او باراني ســیمو کې تېر کړی وي، نو طبیعت یې هم نرم، جذاب، صــبور، له زغمه ډک او منونکی وي، خو هغه چې په وچو، غرنیو، ناهواره او په ټوله کې ســختو ســیمو کې اســتوګنه کړې وي، طبیعت او کړه وړه یې هم سـخت، محکم او ژر پارېدونکی وي، ځکه خو دا خبره ډېره مشـهوره ده چې هر انسان له خپلې خاورې رنګ اخلي.

شـاعر او لیکوال چې تر نورو وګړو ډېر حسـاس او نازک طبیعته وي، د اغېز دا کچه هم په کې تر بل هر چا ډېره اوچته ده، حسـاس، دراک او کله کله شـــاکي وي، ځکه خو غني خان د هغه په اړه وایي چې شـــاعر پوســـتکی نه لري، هر څه ژر درک کوي او غبرګون ښـــیي. طبیعت او چاپېریال د هغه د شـاعرانه نړۍ د رنګ او نور، لید او ښـکلاییزو بریدونو په ټاکنه کې ډېر ټاکونکی او پر هنر یو اغېزناک او نه پټېدونکی عنصر دی.

د شـاعرانو د شـعرونو د ماهیت او نوعیت یا تخلیق د لاملونو په سـپړنه کې د شـعر او هنر کره کتونکی خامخا د هغه د اسـتوګنې او جغرافیې ساحې ته سـر ورښـکاره کوي او د ځینو پوښـتنو او لاملونو ځواب د شـاعر له سـترګو پرته د طبیعت او فطرت په البم کې مومي چې دا د لوستونکي لپاره یوه ډېره قانع کوونکې لاره ده.

د طبیعت او شاعر اړیکه ښځي د ظرف او مظروف اړیکې ته ورته ده، شاعر د طبیعت په هېنداره کې ځان او جهان ګوري، غر، سیند، باغ، کرونده، مرغان، د بادونو او توپانونو شور، د ګلبڼونو عطر، د شپې چوپتیا، د ستورو او سپوږمۍ ځلا، د شفق رنګینې تیارې، د لمر څرک طلایي وړانګې، د غرونو غرور او ... ټول د شـــاعر د شـــاعرانه فطرت هغه خواخوږي ملګري دي چې د ده د شـــعر پالنې ته د خپل درنښت او پالنې څادر غوړوي او شاعر ژوندی ساتي.

د پښتو ژبې پیاوړی شاعر سلیمان لایق د نړۍ له همداسې شاعرانو څخه دی چې له خپل طبیعت سره ژورې او شاعرانه اړیکې د کلام او کلمو د نړۍ په پاچا بدل کړ، د ښـکلا د درک او پالنې تاج یې پر سـر ورکېښـود او د همدې هنر په برکت ورسـره خورو تورو او کلمو د ژوند تر وروستي بریده د مینې بیعت وکړ.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

زموږ هېواد ډېر ښــکلی دی، طبیعي ښــکلاوې لري، خو موږ د دې ښــکلاوو یا د خپل هېواد د جمال او جلال درناوی نه دی کړی، د طبیعت یادونه باید له پاتریوټېزم یا هېواد پالنې سره ګډه شي، په لوېدیځ او نوره نړۍ کې دا کار شوی دی، د ګوېته اثار یې ښې بېلګې دي، د طبیعت ښکلا باید د انسان له مینې سره یو ځای شي او بیا لوستونکي ته د هېندارې په څېر مخکې کېښودل شي، په دې ډول نه یوازې چې د طبیعت ښکلا نوره هم زیاتېږي، بلکې د انسـان په روان او شـخصـیت هم اغېز کوي، تاوتریخجن ذهن او طبیعت یې ورسـره نورمال

او د ارام خواته ځي، ښــه فکر او تحليل کولی شي، په خپلو ټولنيزو چارو کې مثبت فکره وي، د چاپېريال او وخت په قدر پوهېږي. د لايق په شعر کې دا موخه حس کېدای شي، نو د هغه په شعر کې د طبيعت د څېړنې اهميت او مبرميت يوه مهمه موضوع ده.

### د څېړنې موخې

چونغر ته هغه مهال زما پام شــو چې پلخمري ته لاړم، پســــرلي کې مې د چونغر ښکلا وليده، د چونغر ترانو لايق صـاحب راياد کړ او ومې غوښـــتل چې خپله دا انګېزه د مقالې په بڼه وليکم، ځکه لايق صــاحب نه يوازې يو شـــاعر، بلکې د وخت يو ســـياســـتوال هم و، د نوموړي په شــعر کې د طبيعت او يوه زيارکښ انســان دواړو ګډ تصــوير شــته دی، ځينې ورته ايډيالوژيک اغېز وايي، دلته د هېواد پالنې پاتريو تېزم معنا يوازې د غرونو او دښــتو ســتاينه او له هغو ســره د مينې انځور نه دی، بلکې له دې ســيمې ســره هلته د اســتوګن انسـان غاړه غړۍ کول دي، يا په بل عبارت د مسکن او ساکن تر منځ صميمت او پخلاينه ده.

### د څېړنې پوښتنې

۱. په ((چونغر)) کې د طبيعت انځور څه ډول وړاندې شوی دی؟

۲. د ((چونغر)) اثر کې شاعر څه ډول انځوريزه ژبه کارولې ده؟

### د څېړنې ميتود

په دې څېړنه کې له تشــريحي ميتود څخه اســتفاده شــوې ده. د نوموړي شـــاعر ګڼو شـــعري ټولګو دقيق کتل غوښـــتل او طبيعي تصويرونه بايد له جغرافيوي او رواني اړخه تشريح شوي وي.

## لايق او طبيعت

وايي ځمکه هومره هم ښکلې نه ده، د کايناتو او شـاوخوا چاپېريال ښـايسـتونه هومره هم نه دي لکه شـاعر يې چې موږ ته يادوي، خو دلته خبره د انســاني فطرت ده، وطن هر چا ته ښــکلی او کشــمير وي، دا بېخي يو رواني تړون دی چې انســان ته رواني ســکون وربښــي، د غرور او مالکيت احســاس کوي، چونغر د لايق صــاحب لپاره که د رازونو ملګری، کله رقيب، که معشــوق، کله پناه ځای او کله کله د دښمنانو او ډار ځاله ده، دلته بايد د طبيعي تصويرونو په شننه کې د شاعر رواني او نوستالژيک وضعيت هم درک شي.

ښـايي دا به د شـاعر سـليمان لايق نېکمرغي وي چې د نړۍ د يوه داسې هېواد په غېږ کې يې سـترګې وغړولې چې لا يې هم له طبيعت سـره طبيعي اړيکه درلوده او لا يې هم د ساينس او تخنيک (مصنوعيت) وسايلو د ښکلا په جزيره کې لاره نه وې کړې. د خپل طبيعت ستاينه او په غېږ کې يې د اوچتو خاموشـو او غږيزو طبيعي انځورونه کاږل د هغه داسې يو کمال و چې په پښـتو شـعر کې يې بنسـټ د شـيخ متي بابا مناجاتونو او د ښکارندويانو اوچتو قصيدو ايښی او خپلو لوستونکو ته يې د طبيعت پر ژبه د پوهېدو راز ورښـودلی و.

همدا ژوره طبيعت پېژندنه او طبيعت ســتاينه د لايق صــاحب د ټولې شــاعرۍ تر ټولو رنګين او تلپاتې پراو جوړوي چې د شــهکارۍ تر ټولو اوچتې او غښــتلې بېلګې يې په چونغر ترانې، کېږدۍ او ســندرې په ســويو واټونو شــعري ټولګو کې راټولې شــوې، بيا په ځانګړي ډول نوی چاپ يې چې د طبيعت په باب د هغه نور شـــعرونه او د څو نړيوالو شـــاعرانو له طبيعي مناظرو څخه د مالامال شـــعرونو منظومې ژباړې هم په کې راغلې دي.

دلته به اصلي بحث ته له ورتګ وړاندې خپله يوه خاطره هم ياده کړم. زه ماشوم وم، د ملي او مناسبتي ورځو يا نورو سياسي پېښو پر مهال به مې له راډيو څخه د عبدالله مقري په غږ کې يوه وطني ترانه اورېده چې څو بيتونه يې تر ننه زما په ذهن کې دي:

دا وطن ودان وطن

دا د لوی افغان وطن

دا په موړه ګران وطن

خاوره د غيرت ده زلزلې لري توفان لري

غرونو کې بازان لري

شور يې په سيندونو کې

تاو په لويو غرونو کې

مينه يې په زړونو کې

خېژي له سينې د هر افغانه ولولې لري

بلندې لمبې لري

(۷: ۵۷ مخ)

د دې ترانې د اورېدو پر مهال به زما مخې ته د زلزلو، توپانونو، په غرونو کې د بازانو له غورځنګ، د سيندونو له شور، افغاني ولولو، بلندو لمبو او په لويو غرونو کې له تاوونو سره يو ډول غرور هم ملګری و او ويل به مې چې دا موږ يو او زموږ د وطن د غرونو طبيعت هم د دښمن لپاره څومره اوخار او خطرناک دی، دا هر څه به د يوه لوی تصوير په بڼه زما سترګو کې ولاړ وو. ډېر وروسته پوه شوم چې دا ترانه هم د سليمان لايق ده.

د چونغر ترانې -چې د بغلان ولايت د اوسني مرکز پلخمري ښار په کرکر سيمه کې د چونغر ښکلې سيمې او دنګ غره ته منسوبې دي- شاعر په کې د سولې او ابادی د کلونو پر مهال څو کاله ژوند کړی او په وينا يې چې د پسرلي او دوبي په شپو ورځو کې به هلته طبيعت دومره رنګين او زړه را ښکونکی شو چې زه به د خپلې کوټې له کړکۍ او کله کله سهار او مازديګر تر ډېره پورې دومره خېر وم چې په کې ورک به شوم او اوچت شاعرانه الهام او تصويرونه به مې په کې وموندل. له همدې ځايه له چونغر او طبيعت سره زما شاعرانه اړيکه ټينګه شوه، يو ښه مخاطب مې وموند او په خبرو راغلم.

د چونغر طبيعت ته له ورتګ وړاندې په دې اړه هم يو څه وضاحت په کار دی چې د چونغر ترانې شاعر په يوه وخت کې نه دي ليکلي، يادې ټولې ترانې چې د شاعر په وينا ۳۲ ته رسېږي، ځينې يې په دې وروستيو کې په جرمني کې د کډوالۍ پر مهال ليکلي او سندرې په سوو واټونو کې ټولګې يوه برخه کې چاپ شوې دي، څو ترانې يې په کېږدۍ ټولګې کې هم راغلې دي، په دې حساب لومړۍ ترانه په ۱۳۳۸لمريز او وروستۍ يعنې ۳۲مه په يې په ۲۰۰۵ زېږديز کې ليکل شوې ده. (۱۶۳:۷مخ)

## شپږمه ترانه

د چونغر ټولې ترانې د فورم په لحاظ چارپاره نظمونه دي، له چونغر ســره د شــاعر د اوږده راز او نیاز ســندریزه او طبیعي نړۍ ده، شـاعر ورته ترانې وايي، خپله شـاعر د دغو شـعرونو د وزن او نوم په اړه د یوې پوښـتنې په ځواب کې ویلي وو: د دغو ترانو وزن زما خپل دی، دا وزن په تېره د طبیعت په ترسـیم کې د خیال د مرکبو تصـویرونو په هسـتونه کې مرسـته کوي، ځکه ما هغه اختراع کړ تر څو د سـیاسـت او وطنپالنې لپاره یوه رومانتیکه شـاعرانه ژبه پیدا کړم، داسـې چې سـیاسـي مضـامینو ته تغزلي او شـاعرانه سـاه ورکړي. (۱۶۳:۷مخ)

د دغه کتاب پخوانی چاپ د چونغر ترانې په نوم و، خو تازه چاپ یې -چې یوازې د چونغر په نوم دی-بشـپړې ۳۲ ترانې په کې نشـته، لومړۍ هغه یې په کې راغلې، یوه واحد مکان ته د څو ترانو تر څنګ د ځینو نورو طبیعي سیمو انځورونه هم په کې وېستل شـوي دي، د زړه خواله ورسره شـوې، چې زه یې له منځه یوازې د شپږمې ترانې د طبیعت سپړنې ته تم کېږم. د شپږمې ترانې ځینې برخې داسې دي:

تښتم له ښار او له ښاریانو څخه

چونغره غېږ کې دې یوه ځاله راکړه

د لوړو تږو او کمرو په منځ کې

خپلو شپنو سره یوه تاله راکړه

چې شپه خوره شي ستا په لوړو څوړو

زه به د زرکو ترانې اورم

یا به ورځمه په ورغالو کې به

د زاړه شپون نه افسانې اورم

چې رمې وخوځي سبا راشي

زه به له لوړو نه سپېدو ته ګورم

یا به د ځوان شپونکي نغمې اورم

یا به د ستړکې را ختو ته ګورم

چې لمر را تود شي په کمرو کې به زه

د یوې خېړۍ سیوري ته ځان رسوم

د چینې یخې او رڼې اوبه به

سوي کوکل ته په امان رسوم

ماښام به ناست یم  په یوه ګټه باندې

له سره شفق سره به راز وایم

یا به د دروې او شپېلۍ په ژبه

قیصه د زړه د سوز و ساز وایم

ګرزم به، خاندم به، مستي به کوم

د غره له زرکو او هوسیو سره

غلام د هېچا د غرور به نه یم

خیرن به نه یم غوړمالیو سره

(۳: ۸۳ - ۸۴ مخونه)

شپږمه ترانه په عمومي ډول له ښار نه د یوه ستړي او ستومانه انسان تصویر وړاندې کوي، د ترانې بڼه بیا هم روایتي او داستاني ده. دغه ستړی انسان یې مرکزي کرکټر دی، له ستومانه ښاره مازدیګر ناوخته د سکون او ارام په لټون وتی، غره ته پناه وړي، د چونغر د شپنو، رمو او د زرکو د ننداري تږی دی، غواړي طبیعي ژوند وکړي، طبیعت ته د زړه حالونه او ارمانونه ووايي.

دلته په راوړي لومړي بند کې د یوې غرنۍ انساني ځالې انځور وړاندې شوی چې د شپنو کوټنۍ ورته وايي، شاعر انسان هلته پناه وروړي، همدا ځای یې کوربه خونه او مېلمستون دی، خو کوربانه یې شپانه وي چې د خپل طبیعي ژوند له ښکلا وو دومره خبر نه دي، یا یې له مصنوعي ښکلا سره تفکیک نه شي کولی، ځکه له ښار سره یې ورته پرتله ګرانه ده، خو ورغلی مېلمه یې دا کار کوي او دوی ورته ډېر نېکمرغه ښکاري. دویم بند د یوې غرنۍ شپې تصویر دی چې د شپنو ډېوه په کې بله وي، تر یوه وخته د زرکو د ترانو غږونه اورېدل کېږي او چې کله شپه پوخوالي ته ورسېږي، نو د شپانه افسانې په کې پیل شي او دغه تازه ورغلي نا اشنا مېلمه چې له ښاریانو تښتېدلی، ورته غوږ نیولی وي.

په دریم بیت کې بیا د همدې غرنۍ شپې سهارنی طبیعي انځور کاږل شوی، د رمو د ګونګرو یا شرنګانیو په شرنګ را ویښېږي، له یوې دنګې څوکې سپېدو ته ګوري، دا کتل د حرکت وخت او لاره معلوموي، د شپانه د شپېلۍ نغمه اوري او د غره پر څوکه د لمر د راختلو ننداري ته انتظار دی، دی ځان په دې نېکمرغه بولي چې د نن ورځې د لمر لومړی دیدن به دی کوي، همدا یې له نورو ویدو انسانانو یو امتیاز دی.

په وروستي بند کې بیا د ورځې بل پړاو دی، لمر نږدې د اسمان منځ ته راغلی، په کمرونو کې هوا ګرمه شوې ده، د څېړۍ د ونې سیوری یې په زړه اوري، څنګ ته یې د یوې یخې چینې د اوبو ارمان کوي چې د خپل سوي لړمون اور او تنده ورباندې ووژني، دلته را یادوي چې غره ته تللی انسان یواځې نندارچي نه دی، مزل یې کړل، ګرځېدلی، ستړی دی، خولې یې تویې کړې، تندې اخیستی او اوس سیوري او د چینې سړو اوبو ته سخت محتاج دی.

ښایي خوب به هم کوي، چې را ویښ شي ماښام وي، د غره په څنډو کې د شفق ننداره بیا د طبیعت ناوې سینګار کړي وي، دی هلته په ډېره یوازې ناست دی، د زړه رازونه وایي، خو دا یو احتمالي انتخاب دی، که دا نه وي، نو بیا به له دروي سره د خپل زړه د سوز او ساز رازونه او کیسې وایي.

په وروستي بند کې شاعر له بیرون نه درون ته ننوځي، خپل پیغام وړاندې کوي، غر د ټینګښت، لوړتیا او غرور سیمبول وي، خو شاعر وایي چې هلته به زه له زرکو او هوسیو سره ګرځم، د چا د غرور غلام به نه یم، تر ټولو به اوچت وم او ضمیر به مې چا ته په غوړه مالیو لوغړن نه وي، عمومي پیغام ازادي او د یوه طبیعي انځور پر مټ پر مخاطب د ازادۍ د ښکلا ځکل دي.

د شپږمې ترانې دا ټول تصویرونه حسي-عیني او غریز دی، په ټوله کې یو تسلسل پالي، د یوې شپې ورځې په جریان کې له ښاره د تښتېدلي او زړه توري مساپر ټول انځورونه را ټول شوي، د تخنیک او تصنع لاس په کې نشته، په ډېره ناست دی، د ډېرو جونګړو کې ژوند کوي، اوبه له چینې څښي، له تودوخې د څېرې سیوري ته کښښي، د رمو او شپېلۍ په شور را ویښېږي، ښایي یواځې په شپېلۍ یا دروي نیوکه وشي، خو دروي هم نیزار او د سیندونو د غاړې لنده بلو را شنه کېږي، ځکه د طبیعت جذابه برخه ده، اکثره شپانه خپل دروي په خپل چاکو او تخنیک جوړوي، یعنې هم یې دروي او هم یې نغمې خپلې وي. دا ټوله تشریح د طبیعت د یوه بشپړ، ناب او ماهرانه تصویر له اوچت تصور نه پرته بل څه کېدلی شي؟

## د انسان ناپایه سفر

ژوند د طبیعت پر واټ ناپایه سفر دی، خپله شاعر هم د چونغر په مقدمه کې د انسان د دغه ستړي مزل او نامعلوم برخلیک په اړه یوه فلسفي پوښتنه مطرح کوي او لیکي چې  انسان د څه لپاره په پېچلې هستۍ کې دا ستومانوونکي مزلونه لنډوي، د څه شي په لټه کې دی او ولې د پر له پسې منډو او هلو ځلو څخه لاس نه اخلي؟

دې پوښتنې ته په خپل ځواب کې هم وایي چې د ژوند پر واټ د انسان پیل شوې منډه پای نه لري. د انسان تکل او تفکر، د هغه منډه او چیغه د ستر او ناپایه طبیعت د دوام د ضرورت یوه برخه ده. دی ځان د هستوونکي په مقام کېویني، فکر کوي په ځان کې نه ځایېږي او لکه طبیعت ناپایه دی.

رنګونه او عطرونه، اوازونه او پروازونه او هره هغه ښکلې جلوه چې د طبیعت په اجزاوو کې څپې وهي، له ده څه را زېږي او په ده کې ختمېږي، خو واقعیت داسې نه دی، هغه منډه چې پیل شوې ده، پای نه لري. هېڅ برېښنا، هېڅ تالنده، هېڅ حرکت نه ختمېږي، یوازې خپله بڼه اړوي او په نوې بڼه او لا نوې بڼه ابدي جریان مومي.

ځینې روایات دا دي چې د چونغر ترانې له خپل ایجاد نه را وروسته ډېر ځله د شاعر له سترګو او نظر تېرې شوې، غلې شوې او بیا را ژوندۍ شوې دي، ښایي ادلون او بدلون په کې راغلی وي، خپله شاعر هم وایي چې اروپا کې یې د خپلې زوکړې یوې ادبي ناسته ته د مینه والو لپاره درې ترانې بېرته له سره ولیکلې، خو عمومي خبره دا ده چې شاعر وایي:  چونغر ځاځکی دی، خو زه لکه انسان ناپایه. هغه به تر کلونو کلونو زموږ د شبې رنګونه او عطرونه د مستقبلونو له راغوړېدونکیو رنګونو او عطرونو سره ترکیبوي او نن ته به په سبا کې دوام ورکوي. (۳:۶ مخ)

پورتنیو تشریحاتو ته په پام سره ویلی شو چې سلیمان لایق هم د خوشحال بابا په څېر یو طبیعت شناس او طبیعي ښکلا پېژندونکی شاعر دی، له طبیعت څخه د هغه مشاهدات او اخیستنې مستقیم او نېره دی، یا که واضح ووایو په تجربه ولاړ دي، دی چې د سالنګ

د جوړېدو او په يوه دنگ غره کې د تخنيک د يوې سترې پېښې او کارنامې کوم تصوير باسي، نو خپله په کې شامل دی، ده د کوکچې، بدخشان، چونغر، پغمان طبيعي منظرې او په پسرلي کې د کوچيانو د روانو قطارونو ننداري په خپلو سترگو کړې او بيا يې د رنگينو لفظي تصويرونو جامې ور اغوستې دي.

زموږ د ژوند طبيعت يا چاپېريال له اوبو، خاورې هوا او نباتاتو څخه تشکيل شوی دی، کله چې طبيعت خبره کوو، نو خامخا مو دا څلور عناصر چې طبيعت جوړوونکي دي، مخې ته راځي، طبيعت خدايي ورکړه ده، انسان په طبيعي او فطري ډول په طبيعت مين دی، کله چې په دې عناصرو کې د انسان لاس او تخنيک شامل شو، نو بيا ورسره د انسان اړيکه هم کمزورې او مصنوعي کېږي. په چونغر کې د طبيعت دا ټول عناصر د طبيعي تصويرونو په جوړونه کې خپل رول لري او شاعر ورسره په هر لحاظ اړيکه پاللې ده، خو د دې لپاره چې خبره يې لا پخه او کره شي، نو شاعر ډېر ځله د داسې لويو خبرو او خپل تاريخ او عظمت د ننگوَنو لپاره هندوکش مخاطب گرځوي او وايي:

**لوړ هندوکش ته!**

لويه لوړه هندوکشه د شاهين او باز وطنه

د هېلمند او امو پلاره د طوفان او سېل مينه

د ايشيا د غرونو تاجه د پښتون د قام عدنه

اخوا دېخوا ستا په څوکو ورېځې لړې را تاوېږي

يا د پښت د قام غيرت دی چې په تا باندې غوړېږي

د هېلمند په غورځنگو کې د امو په توپانونو کې

ستا د ترو له جنونه په غرو گرځم غرځنی شم

د غيرت لمبې را تاو شي ستا په پښو کې سپېلنی شم

په تا وياړو تا به ساتو د پښتون د قام سنگره

د تاريخ د باغ ښايسته د دښمن د مخ سپره

(۶:۶۴ مخ)

د ادب کره کتونکو او ارواپوهانو طبيعت په دوو برخو وېشلی دی، بيروني او دروني چې په بيروني يا باندينې طبيعت کې ټول طبيعي مناظر -چې موږ يې وينو او حسي بڼه لري- شامل دی، خو په دروني کې بيا د انسان رواني حالات لکه کرکه، مينه، غوسه، جگړه، خندا، ژړا، گيله، شکايت او ... راځي. د چونغر په شعرونو کې د دواړو خواوو انځورونه شته او په خپل مخاطب کې د تجسم ځواک هم په ډېر ماهرانه انداز له عيني او ذهني لارو وېشولی او پاللی شي. هلته هم د چونغر لمنې ته د يوه سرگردانه انسان طبيعي حالت کښل شوی او هم هغه بيرونی طبيعت چې دی ورسره جوړجاړی او خواله کوي.

د چونغر ترانې د خپل چاپېريال يا طبيعت سره د غړيزو تصويرونو په تار دومره محکمې ترل شوې چې ښکلايېزه موسيقي يې هم په لوستونکي کې د ښکلا پالنې ذوق روزي او هم مو دې ته مجبوروي چې د خپل طبيعت غړيزې برخې لکه د سيند شور، د شپېلۍ اواز، د زرکو سندرې، ابشارونه او همدارنګه ځينې وېروونکي غړونه لکه باد، توپان، زلزلې، د بازانو او مارانو پشهار هم راته ښکلي او منلي شي. په څوارلسمه ترانه کې راځي:

بيا د رڼو سترو تر چتر لاندې

د پسرلي شپه په چونغر وخته

د هندوکش راماته شوې وږمه

د سرو ګلانو په بستر وخته

د غرو پر مټو موسمي بادونه

په کروندو کې شنې ځپې خوروي

طلايي وړانګې د ځپو پر څنو

درنګ او عطرو کشيدې خوروي

برېښنا او تالنده د غرو په څوکو

پسرلی ستايي غرغړې وهي

زرکې د تېږو پر تاجونو ناځي

د عشق له زوره کرکرې وهي

(۱۷۵:۷ مخ)

د لايق په چونغر کې نغښتي طبيعي تصويرونه په ځانګړي ډول يوه شاعر او اديب او په عام ډول هر لوستونکي ته خپل پيغامونه لري. تر ټولو مهم دا چې موږ د جلال او جمال مالکان يو او ملکيت مو وطن دی، څومره چې انسان طبيعت ته نږدې وي، هومره عاطفي وي او څومره چې انسان عاطفي کېږي، هومره يې له خالق او مخلوق سره اړيکه پياوړې کېږي، بله دا چې موږ بايد له طبيعت سره مينه وپالو، د خپل طبيعت او طبيعي مناظرو په درناوي او ساتنه ځان خبر کړو، زموږ طبيعت بايد زموږ د خپل هنر او ادب اصلي محرک وي، د خپلې خاورې او اوبو بوی ولري او په لوستونکي کې وطنپالنه پياوړې کړي. لاندې شعر په خپل طبيعت کې همداسې روحيه هم لري.

**د کوکچې په غاړه**

د ښکلي بدخشان په پسرلي کې له هر لوري

د ګلو په ځپو کې د بلبلو هنګامه وه

د عشق او د ښایست او د ښکلا په فیض اباد کې

د ستورو، د اسمان او د پېرونو زلزله وه

د لعل و د لاجور او د سرو زرو په وطن کې

روانه یوه له سوزه درده ډکه ډرامه وه

له موجه د کوکچې نه را وتلې زلزلې وې

د تورې شپې په زړه کې را روانې ترانې وې

د ښکلې طبیعت او ښایسته اسمان د لاندې

په صافه بې غباره جنتي نوې هوا کې

د غرو له پورته څوکو د ګلونو په توفان کې

د مست او لېوني سین د موجونو په ګډا کې

د باد له ترانو سره چې استازی د پامیر و

په رنګ رنګ زمزمو کې په خندا کې په ژړا کې

(۶:۶۶ مخ)

د چونغر د طبیعي تصـویرونو تر ټولو غوره ځانګړنه داده چې د تصـویرونو تر شـا لوسـتونکي ته خپل روزنیز اړخونه او پیغامونه هم لري چې هم له تېر تاریخ سره تړلي او هم له راتلونکو هیلو سره شاعرانه تار لري، خو بنه یې ننګونکې او بیداروونکې ده چې دا چاره د یوه ژمن شاعر په اصلي دندو کې راځي او لایق صاحب دا کار په خورا مهارت سره کړی دی. په اوولسمه ترانه کې راځي:

د سحر باده ناورینونه لونه

په دې وحشي غره په چونغر باندې

د رڼو ستورو په بدمخي قاتل

د تورو شپو په جادوګر باندې

ولې د غرونو په خوره تیاره کې

د لمر د وړانګو سحرونه وژنې

ولې د ورېځو د کږېدی د ننه

د رڼو ستورو څراغونه وژنې

نړۍ زما کومه نانځکه نه ده

خپل ازلي مصلحتونه لري

هم د تیارې سمندرونه لري

هم د پېرووونو څراغونه لري

(۱۸۲:۷ مخ)

د چونغر په ټولو ترانو کې شاعر په دې برېالی دی چې ځان ته یې یو ښه مخاطب موندلی، کله چونغر ته پناه ور وړي، د مور او امن غېږ شي، کله ترې ګیلې او شکایتونه کوي، کله ورته خپل بې وسه او شاعر زړه تشوي، کله پرې نیوکه کوي، ظالم یې بولي چې دا مشاهده په ټولو ۳۲ ترانو کې ډېره روښانه او طبیعي ده. دا ښايي د هر شاعر خپله ځانګړنه وي، له سبکي اړخه هم د چونغر ترانې شاعر ته ځانګړی اسلوب او سبک ور په برخه کوي چې سیمبولیک او د طبیعت او ښکلا پر طبیعي انځورونو ولاړ دی، پخوانی او اوسنی چونغر هم د هغه په سبک کې ښه بدلوي، پخوا که د امن پناه ځای و، وروســـته یې د لېوانو او بلاګانو کور بللی او په همدې یې ورڅخه ګیله کړې ده. د چونغر اته ویشـــته ترانه چې ټوله ګیله او شکایت نه ډکه ده، داسې پیلېږي:

اې د لرغونو تاړاکو چونغره!

تن دې ډېره، زړه دې هم ډېره

هر سحر مینځې مخ د لمر په وینو

هر ماښام پوښې تن د شپې په زغره

ما وې دلدار به شې اغیار شولې

ما وي سیمرغ به شې ښامار شولې

ما وې د لمر د لارې یار به شې

ته د تیارې علم بردار شولې

خو ته ملاتړ د ظالمانو شولې

د جلادانو او دېوانو شولې

ځاله د مار او ښامارانو شولې

(۷: ۱۹۵ -۱۹۶ مخونه)

خو په یو دېرشمه ترانه کې بیا خپله پورتنۍ خبره او وروستۍ خبره داسې جبرانوي:

چونغر د خلکو د وحدت کور دی

د افغانانو د حرمت کور دی

د روان عصر د فتنو مخې ته

د بې توپیره محبت کور دی

بر یې په سر هزارګان اوسي

کوز یې په زړه کې تاجکان اوسي

په «سرخ کوتل» کې پښتانه قومونه

په دهانه کې ازبکان اوسي

(۷: ۲۰۲ مخ)

له دې سپړنې او بېلګې دا په اثبات رسېږي چې د یوه لیکوال یا شاعر پر سبک د خبرو لپاره څو لارې چارې ډېرې اړینې دي، که د سبک پېژاند د شاعر یا لیکوال له شخصیت، ټولنیزو، سیاسي حالاتو او چاپېریال څخه چې شاعر او لیکوال په کې وړوکی را لوی شوی دی، همدا راز د هغه مفکورې او نورو اړینو شیانو څخه خبر وي، نو د پنځګر له سبک خبرېدای شي، ځکه چې سبک ( غږونو، کلمو او جملو غوراوی) له شخصیته رنګ اخلي او شخصیت یې له خپل چاپېریال اغېزمن وي، چاپېریال ځکه مهم دی چې د ځینو پوهانو په اند علم د شعور او هنر د لاشعور زېږنده ده، خو که چېرته یې د ژوند د چاپېریال او حالاتو په اړه مطالعه ونه لرو، نو بیا یې د اثارو له لوستنې پرته بله چاره نشته، دلته مو بیا سبک د پنځګر له شخصیته خبرولی شي. (۸: ۵۱-۵۰ مخونه)

له یوه شاعره تمه هم دا وي چې د ژوند له پټو ښکلاوو پرده پورته کړي، له ژوند سره د انسان اړیکه پیاوړې او مهذبه کړي، دا ور زده کړي چې د تېرولو لپاره، نه د پاللو لپاره دی. د لبنان د طبیعي مناظرو ستاینکی شاعر جبران خلیل جبران په دې اړه وایي: شاعر د ځانګړو ځانګړنو لرونکی الوتونکی دی چې له خپلې لوړې نړۍ څخه د نغمه ویونکې په توګه دې نړۍ ته راستول شوی او راغلی دی، که درناوی یې ونه کړو، خپل وزرونه به وغځوي او په الوتو الوتو به خپل هېواد ته ستون شي. (۵:۷۵ مخ)

په چونغر کې ښاغلي لایق د زمان عنصر ته هم پوره پام کړی دی او دغه پاملرنې د طبیعي انځورونو زماني اړخ ته پیاوړتیا ورکړې ده، هلته طبیعي ښکلا په ټاکلي زمان کې قید ده، سهار، ماښام، شپه، شفق، سپېدې، غرمه او...نور وختونه شاعرانه شوي او تصویر ته یې طبیعي رنګ ورکړی دی، یا په بل عبارت، شاعر زمان ډېرې ښایسته شېبې په مهارت سره ښکار کړې او خپل طبیعت یې نه دی خپه کړی.

کره کتونکي په دې باور دي چې ښه شعر هغه چې شاعر په یوه اوږده سفر ته بوځي، کېدای شي دا بېول یوه شېبه وي یا اوږد سفر، خو تر ټولو ښه شعر لوستونکي ته داسې احساس ورپه برخه کوي، لکه دی چې همغه د شعر په مکان کې وي، یا غواړي ورشي. د خوشحال شعر دې غره ته بیايي، خپلې زمانې ته دې ور ولي، د هند په بازارونو دې ګرځوي، د وخت له خوړو او رواجونو سره دې اشنا کوي، ښايي ځینې نور شاعران مو هم په یوه مکان وګرځوي، خو ممکن په دغه مکان کې یې انساني ښایست هېر وي. (۴:۲۳ مخ)

د سلیمان لایق په چونغر او نوره شاعرۍ کې هم دا ښکلاییز اصل او اثر ډېر پیاوړی دی، د تېر ارمان نوستالوژي ورته ویلی شو. د ورکتوب ارمان شعر کې څو مکاني او انساني ښکلاوې داسې انځور شوي دي. دلته شاعر ارمان کړی چې کاش هېڅ احساس یې نه درلودی، بزګر وی یا شپون وی، بزګر او شپون بیا زموږ د ټولنې دوه داسې غړي دي چې عمر یې له طبیعت سره تېرېږي.

بزګر وای بې خبر وای لوېې دښتې مې کرلای

د غرو د څوکو شپون وای وري او مېږې مې پوولای

مزدور وای په غرمو کې مې ډبرې ماتولای

بندي وای په زندان کې مې مېچنې ګرځولای

خو کاشکې د قلم په ژبه نه وای پوهېدلای

د ژوند د راز کتاب مې هرګز نه وی اړولی

+++

شپېلۍ چې د شپانه د غرو په تړو کې غړېږي

اواز چې د اوښه په لویو دښتو کې خورېږي

لنډۍ چې د بزګر له ساده فکر نه راخېږي

کوچیان چې د کېږدیو له اړخو سره ګډېږي

حسرت مې له دردو سره له زړه نه را خوځېږي

له اوښکو سره ګډ شي تورو خاورو ته بهېږي

(۶۹:۶ مخ)

د ژوند له تجربو او خپل چاپېریال سره اشنا شاعران دا هنر لري چې پر لوستونکي انساني او مکاني ښکلا دواړه حس کړي. سلیمان لایق د خپل شعر په طبیعت انځورونو کې د خپل شعر مکان ښکلا راباندې ګوري، خو له انساني ښکلا سره مو هم اشنا کوي، د چونغر ټول طبیعي انځورونه د مکاني او انساني ښکلا رنګونو د تکامل مانۍ ته رسولي دي، خو د مکاني ښکلا رنګ یې پر انساني یو څه غالب ښکاري.

کېدای شي چې دې ښکلا ته د جلال او جمال ښکلا ووایو، خو پوښتنه دا ده چې پر لوستونکي د ښکلا حس کول هغه ته څه ګټه لري، یوازې یوه شېبه خوښي ده که د هغه په شخصیت کې هم بدلون راوستلی شي؟ ارواپوهان په دې اند دي چې ښکلا انسان ته ګټې هم لري، لومړی ګټه یې دا ده چې د هغه ویده احساس پاروي او د احساس په پارېدو سره هغه ژوند کولو ته چمتو کېږي. ښکلا په همدې ډول نفس هوسا کوي، ډاډ یا اطمئنان رامنځته کوي، پرېشاني او خپګان کموي، انسان فعاله کوي، ژوند ورته زړه راښکونکی کېږي، د ژوند په اړه یې بد او تیاره فکر لرې کوي. (۴: ۷۵- ۷۶ مخونه)

د خپل هېواد او خاورې د ښلابېلو طبیعي مناظرو، سیمو او شېبو انځورګري له وطن سره د خلکو د مینې پیاوړي کولو او ګرانښت سبب هم ګرځي، د خپل چاپېریال هېرو شوو ښکلاوو ته یې پام اوړي، په وجود کې یې د شخصیت او ملي غرور احساس پیاوړی کېږي،

له نورو سره د سيالۍ حس په کې غځونې کوي، د تفکر او تعقل سرچينه يې تانده شي او بيا اړ کېږي چې پر وړاندې يې خپل مسؤليت هم تر سره کړي، دا مسؤليت د ښکلاييز ذوق، هېوادپالنې او نورو ته د درناوي پر ژوره روحيه ولاړ دی.

**د سالنګ ترانه**

په لمن د هندوکش کې

بيا د کار موزيک غږېږي

د ماشين تر دوړو لاندې

د هېواد انسان خوځېږي

+++

غرونه غرونه به هوار شي

کار به وکړي ګلونه

سېل به مار شي، سين به واوړي

طبيعت به شي په ملونه

+++

علم او کار سره يو شوي

ماتوي دا سختې پرښې

د سالنګ د زړه باسي

د انسان د فکر کرښې

(۱۰۴:۶ مخ)

د دا ډول طبيعي تصويرونو پنځول انسان روحاً له خپل مکان او خاورې سره تړي، د بې پروايي او ورسره د جفا عنصر توړي. اپلاتون په خپل نامتو اثر جمهوريت کې - چې له شاعرانو سره يې د ځينو لاملونو په سبب دښمني پاللې ده- د خپل استاد سقراط د يوې خبرې په استناد د شعر د عاطفي او رواني روزنيز اړخ په اړه ټينګار کړی او وايي چې اغېزناکه روزنه هغه ده چې روح وپالي، شعر دغه مسؤليت ځکه تر سره کولی شي چې د خپل وزن او موسيقي په سبب پر روح لطيف اغېز کوي، په کومو کسانو کې چې دا ډول اغېز رامنځته شوی وي، نو هغه د لطيف طبيعت خاوند دی.(۲۱۷:۱ مخ)

استاد لال پاچا ازمون په خپل اثر ((نظم پوهنه)) کې د کلمو موسيقي بحث کې د کلمو يا لفظونو د معنوي او د کلمو د تورو د عږيز تړون موضوع ته-چې اصلي سرچينه يې د طبيعت موسيقي ده- په اشارې سره ليکي: د کلمو د غږونو د تورو منظم حرکت د کلمو يا کلام

معنا په اصـــلي بڼه وړاندې کوي، خو که چېرته د کلمې یا لفظونو توري ناموزون ولوســـتل شـــي، نو معنا یې هم زیانمنېږي، نو د کلمو لوست د کلمو د تورو په منظم اهنګ سره اصلي معنا وړاندې کوي. کلمې له هغو غږونو څخه برابرېږي چې د هغه د طبیعت په غېږ کې د غږونو له یو منظم اهنګین ترون څخه رامنځته شـــوې وي. د شـــعر موســـیقي هم د طبیعت په غېږ کې د طبیعت له منظم حرکت نه را منځته کېږي. (۲۴:۲ مخ)

په چونغر ترانو کې هم د طبیعي تصویرونو او مناظرو شاته اوچته همغږي او موسیقي په ځپو ده، څکه چې شاعر د خپل کلام لپاره د طبیعت ژبه غوره کړې، د هنر او موسیقي لومړۍ سرچینه هم طبیعت دی، د چونغر لفظي او غږیز تصویرونه، لنډ بحرونه، خوځند ردیفونه، چستې قافیې او وزني همغږي د طبیعت په مناظرو کې ښکلې موسیقي پنځوي او ښایي همدا لامل وي چې سندرغاړو د نوموړي له ګڼو ترانو او شعرونو څخه ښکلې سندرې جوړې کړې دي.

د چونغر دېرشـمه ترانه د نورو ځانګړنو تر څنګ خپله ځانګړې او ښکلې موسیقي لري چې بیا یې هم سرچینه طبیعي مکاني او زماني عناصر دي:

بېګاه غمجنه، سهمجنه شپه وه

غوږ ته مبهمه اوازونه راتله

د ایره شویو غرلمبو له سیمې

د مرګ ساړه ساړه بادونه راتله

د هسک په وربځو کې مستي غلې وه

د سین ځپو کې سرودونه نه وو

د ګل په شونډو کې خندا وچه وه

په تپې زړو کې فریادونه نه وو

چونغر د وربځو ځادر وغوړاوه

خپله تنه یې الونیا کړه په کې

وې دغه شپه د فریادونو نه ده

سرلګوه تیاره سبا کړه په کې

(۲۰۱:۷ مخ)

انسان په فردي او ټولنیز لحاظ ښېرته ادب ته اړ دی چې د خیال په نړۍ کې یې ننداره وکړي او د خپل ژوند خوبونه په کې ووینې. له ادب څخه انسان په فردي او ټولنیز لحاظ د یوې وسیلې کار اخلي، د ټولنې د اصلاح او بدلون لپاره د ادب وسیله کاروي، څو خپلو اهدافو

ته ورسېږي، ادب همدا راز ټولنې ته د رښتيني ژوند په اړه داسې پيغامونه او تخنيکونه وړاندې کوي چې پخوا يې هېڅ تجربه کړې نه دي. (۳۴:۳ مخ)

د چونغر شاعر هم له دې ټول ځور او شاعرانه رياضت سره يو ارمان لري، هغه له اوږدو کړاوونو ځان ته يو ځانګړی مخاطب موندلی، هغه ته د زړه ټول حال وايي، په دې حال کې د هغه هيلې، موخې او ارمانونه هم شامل دي، خو بيا هم د هغه سبک ته په پام سره د سيمبوليکو روايتونو او طبيعي انځورونو په بڼه وړاندې کېږي. د چونغر دوه دېرشمه يا وروستۍ ترانه هم له چونغره لرې په يوه خوب ولاړ ده، شاعر خوب ويني چې چونغر مړ کېږي، نړېږي، لاندې کرکر ترې لاندې شوی وي، شاعر په دې ترانه کې خپلې هيلې او ارمانونه چې بايد داسې ونه شي، د وېرې او انديښنو په بڼه وړاندې کوي:

بېګاه مې خوب ليده چونغر مړ دی

د غرونو مشر شمله ور مړ دی

سپوږمۍ اغوستې د تيارې پړونې

عالم تياره دی، ته وا لمر مړ دی

کاته مې بشپړ غرجستان ژاړي

د بلخ البرز او کوهستان ژاړي

د غرو پر غوټه ټول پراته ناوونه

باميان، کونړ او نورستان ژاړي

په خوب کې پوه شومه چې خوب وينم

غوښته مې ويښ شم وېښېدلای نه شوم

د خوب او ويښې له پېچلې پولې

غوښته مې ووځم، خو وتلای نه شوم

کرکې مې پرانېسته سپوږمۍ خوره وه

په لوړو ځوړو د چونغر باندې

وړانګو را ښکودې د زرتارو بخې

د عاشق غره په شنه بستر باندې

چونغر موسکی شو، وې شاعره وروره!

کله چې زه نه يم جهان به نه وي

چې ځمکه چوي او اور لوبه کوي

نښه د ژوند او د انسان به نه وي

بیداري خپله کړه، خوبونه پرېږده

حقیقت وستایه خیالونه پرېږده

که یې رښتیا په پاڅونونو مین

درياب ته دانګه ساحلونه پرېږده

(۷: ۲۰۹ -۲۱۰ مخونه)

په چونغر کې د سليمان لايق د استوګنې پر مهال به هلته ډېر انسانان اوسېدل، د ډېرو په زړونو او ذوق به د دغه سيمې طبيعي ښکلا منګولې لګولې وي، خو د دوی له منځه يواځې يوه شاعر وکولی شول چې په خپلو ترانو کې دا ښکلا ابدي کړي، چونغر د نوم او شهرت اوج ته ورسوي، تر دې چې د نورو فرهنګيانو لپاره د ادب او فرهنګ په يوه سيمبول بدل شي. همدا نن په بغلان کې چونغر ادبي ټولنه، چونغر ادبي بهير، چونغر راډيو، چونغر پاڼه او تر ټولو مهم دا چې په وروستي اقدام کې د دې ولايت د شاعرانو ادبي تذکره د چونغر په لمن کې نومول شوې ده.

## پايله

پښتو شاعرۍ کې له طبيعت سره د ژورې مينې او طبيعت ستاينې يو ډېر اوچت او شهکار کتاب دی چې شاعر يې ورسره د يوه محبوب په څېر راز او نياز کړی، چونغر د هغه د شعر يو ژوندی کرکټر دی، د يوه انساني عمر د پيل او پای يعني زېږون او مړينې کيسه يې ورسره کړې ده. دا ډول ترانې په پښتو اوسنۍ شاعرۍ کې کم سارې دي، هغه د يوه شاعر انسان په توګه خپل طبيعت ته درناوی کړی او نن سبا چې د وطن په غرونو او ځنګلونو تاوان روان دی، قاچاق کېږي او د يوې غوړې سوداګرۍ ځای يې خپل کړی، خلک رابولي چې له طبيعت سره مينه وکړي او ويې ساتي.

## مأخذونه


۱. اپلاتون. جمهوريت، ژباړن: سيد نظيم سيدي، (دويم چاپ). سوله خپرنيز مرکز: کابل، ۱۳۹۶ل کال.

۲. ازمون، لعل پاچا. نظم پوهنه، علومو کاډمي او کابل پوهنتون: کابل، ۱۳۹۷ل کال.

۳. بهير، فهيم. د ادب ټولنيز دريځ، هاشمي خپرندويه ټولنه: ننګرهار، ۱۳۹۹ل کال.

۴. پسرلی، اجمل. ښکلا د خوشال په غزل کې، علومو اکاډمي او کابل پوهنتون: کابل، ۱۳۹۷ل کال.

۵. رحماني، ګل رحمن. د ادبي کره کتنې مشال، سمون خپرندويه ټولنه: کابل، ۱۳۹۹ل کال.

۶. لايق، سليمان. چونغر، عازم خپرندويه ټولنه، کابل، ۱۳۹۸ل کال.

۷. لایق، سلیمان. سندرې په سوو واټونو کې، عازم خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۸ل کال.

۸. نوري، هوسا یوسفزی. سبک پېژندنه، سمون خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۹ل کال.